United Nations — Nations Unies

**په افغانستان کې د خوړو د نه خوندیتوب او خوارځواکۍ د ستونزو په هکله د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړي استازي مرستیال او د بشري چارو همغږي کوونکي ډاکټر رامز الاکبروف بیانیه**

**د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۱۵مه**

د افغانستان خلک دا مهال د خواړو د نه خوندیتوب او خوارځواکۍ له یوه بېساري بحران سره مخامخ دي. له سختې لوږې سره د مخ خلکو شمېر کې چټک ډېروالي – د ۲۰۲۱ کال جولای کې ۱۴ ملیونو نه بیا د ۲۰۲۲ مارچ کې ۲۳ ملیونه – کورنۍ د خورا سختو لاروچارو خپلولو ته اړې کړې دي، لکه د یو وخت ډوډۍ نه خوړل او یا د ډېرو زیاتو پورونو اخیستل، تر څو دا ډاډ تر لاسه کړي چې بې خواړو نه پاتې کېږي. دغه نه منونکې حالت د بې شمېره کړاوونو لامل شوی او د شته خواړو په تنوع ، کمیت او کیفیت کې یې کمښت رامینځته کړی، ماشومان یې د وزن شدید کمښت سره مخ کړي، او د ښځو، نارینه وو او ماشومانو په فزیکي او رواني هوساینې باندې یې نورې ناوړې اغېزې کړې دي.

په افغانستان کې نږدې ۹۵ سلنه خلک پوره خواړه نه خوري، چې دا سلنه په هغو کورنیو کې چې مشري یې د مېرمنو په غاړه ده، نږدې ۱۰۰ سلنې ته رسیږي. دا شمېره دومره لوړه ده چې باور یې سخت دی. خو همدا یو سخت او تریخ حقیقت دی.

روغتونونه د هغو ماشومانو څخه ډک دي چې په خوارځواکۍ اخته دي. د دغو ماشومانو جسامت د دوی د عمر په پرتله ډېر کوچنی دی، او ډېری یوکلن ماشومان د پرمختللو هېوادونو د شپږ میاشتني ماشوم په وزن دي، او ځینې خو دومره کمزوري دي چې نشي ښوربېدلای.

افغانستان لا هم د ورانوونکې وچکالۍ له اغېزو او سږ کال بیا د خرابو حاصلاتو شونتیا سره لاس‌اوګرېوان دی؛ په ورته وخت کې ډېر کلک مالی او بانکي بحران له ۸۰ سلنې نه ډېر خلک پورونو اخېستو ته اړ کړي دي. مونږ نشو کولای دغه حقایق چې خلک ورسره مخ دي، له پامه وغورځوو. سترې ستونزې لا هم مخ ته پرتې دي.

نو له همدې امله، زه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږي کوونکي په توګه غواړم یو ځل بیا تکرار کړم چې ملګري ملتونه د کورنیو او نړیوالو همکارو ادارو سره یو ځای په خپل ټول توان هڅه کوي څو د یو جامع او همغږي غبرګون له لارې د لوږې او خوارځواکۍ اغېزې کمې او په ورته وخت کې ټولنو ته هغه څه په واک کې ورکړي چې په راتلونکي کې د دوی د معیشت دوامداره ساتنه وکړي.

تر اوسه په ۲۰۲۲ کال کې همکارو بشردوستانه ادارو له ۸/۲ ملیونه خلکو سره ژوند ژغورونکې او د خوراکي توکو دوامداره مرستې کړي دي چې پکښې د خواړو بېړنۍ بستې، موسمي مرستې، د ښوونځیو د ماشومانو لپاره خواړه، د بزګرانو لپاره د کرنې اړین توکي لکه تخم، سره او د څارویو خواړه، او نویو میندو او د هغوی ماشومانو لپاره مغذي خواړه شامل دي.

په راتلونکو میاشتو کې به ملګري ملتونه او بشردوستانه همکارې ادارې خپل ملاتړ او د غبرګون چارو چټکولو او ډېرولو ته دوام ورکړي او هغو لرېو پرتو سیمو ته به مرستې ورسوي چې په تېرو کلونو کې د ناامنیو او جګړو له کبله له پوښښ او مرستو رسولو پاتې شوې وې.

د ۳۴ ولایتونو له ډلې په ۲۸ ولایتونو کې د سختې خوارځواکۍ کچه ډېره لوړه ده او له ۳/۵ ملیونه ډېر ماشومان د خوارځواکۍ درملنې ته اړتیا لري. وار له مخه په ۳۴ ولایتونو کې د خوارځواکۍ د درملنې ۲،۵۰۰ څانګې شتون لري چې په کلیوالي او ښاري سیمو کې کار کوي، او د اګست له میاشتې راهیسې یې ۸۰۰،۰۰۰ په خوارځواکۍ اخته ماشومان تر پوښښ لاندې نیولي دي او سږکال پلان لرو چې دغه مرستې ۳/۲ ملیونه اغېزمنو شویو ماشومانو ته ورسوو. همدارنګه، موږ په پام کې لرو چې یو ملیون خلکو سره د حرفوي زده کړو په برخه کې مرسته وکړو، یو ملیون د ښوونځیو ماشومانو سره د خواړو مرستې وکړو، او ملیونونو نورو خلکو ته به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کرهنیز روزګار او معیشت اړوندې مرستې وړاندې شي چې د نفوسو یوه ډېره برخه په همدې کرهنیزو عایداتو متکي ده.

موږ باید دا له پامه ونه غورځوو چې که څه هم د ۲۰۲۱ کال د اګست راهیسې سترو بشردوستانه مرستو وکولای شول چې د هغو جدي وېرو مخه ونیسي چې ژمي موسم ته مو درلودې، خو بیا هم، د خوړو د نه خوندیتوب او د خوارځواکۍ کچه لا تر اوسه ډېره لوړه ده او لا هم پراخ، دوامداره بېړني بشري غبرګون ته اړتیا لري تر څو د لا ډېرو خلکو د ژوند او معیشت د وسایلو د له منځه تللو مخنیوی وشي. دا د افغانانو د یو بشپړ نسل د برخلیک موضوع ده.
ملګري ملتونه به په راتلونکو اونیو کې د خپلو ګډو هڅو په اړه د منظمو معلوماتو چمتو کولو ته دوام ورکړي. د مارچ په ۳۰مه به ملګري ملتونه، انګلستان، جرمني او د قطر حکومتونه افغانستان ته د بشردوستانه مرستو د ژمنو په اړه یو ګډ نړیوال کنفرانس ولري. زه له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوم چې په دغه سخت وخت کې د افغانانو سره د مرستې لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي او خپلو سخاوت مندانه او ژوند ژغورونکو مرستو ته دوام ورکړي.

یواځې بشردوستانه مرستې د ټولو اوسنیو او راتلونکو ستونزو د حل لپاره بسنه نه کوي. خو دا په قطعي توګه اړینه ده چې د خلکو ژوند وژغورو او روغتیا ته یې پاملرنه وکړو او په خورا سختو شرایطو کې د بېوزلو خلکو د اړتیاوو د لا ډېرېدو مخه ونیسو.

موږ په ګډه د میلونونو افغانانو ملاتړ کوو چې خپل ژوند او ټولنې بیا جوړې کړي، خو باید په یاد ولرو چې روښانه راتلونکي ته دا اوږد مزل په تشو خېټو ناشونی دی.

*د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه:*
*پییر پېرون، د عامه معلوماتو مسول،* peronp@un.org